مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۸/۱۰/۰۴

# پسرلی تېرسو خــزان دئ،

## خـبروي، مي خبروي مي

پسرلی تـېرسو خــزان دئ، خـبروي، مي خبروي مي
چمن وچ بلـبل ګریان دئ، څوروي مي څوروي مي

بــهــارونـه دي تـېرېږي، درومي، درومي نه دربېږي
خـو ښـایست تـل جـاودان دئ، نازوي مي نازوي مي

د نـظر واک مي پـردی دئ راځـه ځـغلي ښایستو ته
دا جنون دئ که ارمان دئ، خنـدوي مـي خنـدوي مي

د ګـروهمن عـقل لښکر مي پیره دار پر دواړوسترګو
خواحساس مي په طغیان دئ ، لمسوي مي لمسوي مي

حُـسن څــومــره زورور دئ نــړوي د تـقـوا څلي
د ښایست حـکـم فـرمان دئ، ځغلوي مي ځـغلـوي مي

د پردېس زړګي ټاټوبی راځـه ورک دئ نــه ئـي موم
د مـعصوم ژوندون داستان دئ، ژړوي مـي ژړوي مي



(Lakeview Park)،
آشاوا ــ انټاریو
۱وله د سپتمبر ۲۰۱۴ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ